مورآبی: بس که گلون کنه درته وایم غلې شه!

گلون: عجیبه خبره ده گناه چاته ده او ته قاربږې چاته؟

مورآبی: دا ټول قصور خو ستا دے غلې غلې لگیا ئې هڅو د ادب کولو په چل پوهېږې نه.هغې غریبې درته څه ونیلی دی او که څه ئې اووئ خو چرته یو دوه خبرې به ئې کړې وی. پرېږده.

گلون: بل سړے شل وائی، خو چې زه یوه خبره اوکړم هغه په دې ټول کور کښې نه ځائېږی.

مور آبی: اوس روغه موته ئې، د ځلوښتئ دا مطلب نه دےچې ته په کور کښې په قلاره ناسته ئې. خپل خاوند له کار کوه کنه!

گلون: اصغرخان هم زما رور دےماته د هغه نه ښه ښکارېږی. مورآبی زه به هغه له هم مزدوری کوم.

نگهت: خدایه توبه مې دې وی، خپل وړوکی لېور ته څوك داسې وائی چې هغه مې هم خوښ دے.

گلون: ډېرې سپکې مه وایه نگهت: هغه زما کشر وروړ دے.

نگهت: او کنه چې پلار ئې نه کړې او وروړ ئې نه کړې. نو خپل به ئې په څه کړې؟.

گلون: که زړه دې چوی او که پاتې کېږی خو هغه زما وروړ دےاو زه به ورته وروړ وایم.

بنــه بــه نــه وي. ورخــه اوس ووك شــه. دا تــا څــه ملنــډه جــوړه كــړې ده، چې په مونږ راپسې شوې نې سړيه!

ســعيد كــوزې ســترگې د وحيــد او د هغــه د ملگــرو دلاســه د كــوخې نــه راروان شــو، ســوړ اســويلې نــې د خــولې نــه وختلـو. څـو څه نې كولې شـو واقعـی خپـل پـلار ورتـه زوی نـه وانـې او نيـا ورتـه نوسې نه وانې نو ورور به ورته ورور څنگه ووائې.

بـل خوا وحيـد، گلې، خېرے پـه خپـل مينـځ كنبـې پـه گـپ شـپ لگيا شول:

وحيد: ده له هم دا رټل پكار وو نو.

خېرے: دے په اشارو نه پوهيږي، د لوړ مسلمان دے.

گلې: په داسې وخت كنبې ناكام كول بې غېرتی وی.

وحيــد: زه بــه دده ســره گــورم. انشــاء الله تعــالى دے بــه اوس زيات زمونږ په كور كنبې پاتې نه شي.

خېـرے: يـره خانـه! كـه ددې مصـيبت نـه دې خـلاص كـړو. نـو گليه وايه كنه خان هم راغے، اوس خپله مطالبه پېش كړه.

گلې: څـه مطالبـه ده خـان، بنـه خبـر دے، نـو زه بـه نـې څـه خبـر كړم. ته ورته ولې نه وانې.

وحيد: مـړه خـو پـه هـر شـي مـو شـر وي، څـه پروگـرام دے وانـې كنـه، جيـب خـو مـې هسـې هـم ډك دے، نـن مـې د مـور پـه مصـلحت انبـار مـات كـړے دے او پـه سـيټ مـې د درې و سـوو روپـو غـنم خـرڅ كـړی دي. ورځ دوه بـه پـرې بنـه گـذاره وشـي. خـو شـابه چرتـه بنه غوندې خائې بنائې.

خدائے فضل دے پتی ده هر دی زمونږ د ژوند به وشی.

گلے: پاخئ چې خو ناوخته کیږی.

خپرے: خان تیار دے څه؟

وحید: زه بلکل تیار یم، ځئ چې خو

دوی ټـن بیـا پـه جمـع د گلنـار مجلـس تـه راغلـل. بنـه پـه شـان شـوکت سـره ئـې د گلنـار مجلـس وکـړ او شـراب کبـاب اوخـوړے شول.

گلنار: خیریه نن خان ډېر خوشحاله دے.

گلے: ستا د بنړو غشی ئې په زړه باندې لګېدلی دی

خپرے: ولې به خوشحاله نه وی تول جائیداد ورته پاتې شو.

گلنار: دا څنګه؟

خپـرے: خـان ئـې لاهـور تـه رخصـت کـړ او ورور او مـور ئـې د کور نه وشړل، لاوزګاره شو.

گلے: ولـې گلنـار تـه خـو څـه پـه فکـر غونـدې شـوې. زمونـږ دا چل دې خوښ نه شو څه؟

گلنار: زما او ستاسو کار نه خوښېدل خدائے دې نه کړی.

وحید: گلنار! زه به اوس خپله وعده پوره کړم.

گلے: د گلنار نه تپوس وکړه، چې ددې خپله وعده یاده ده که نه؟

گلنـار: زمـا خـو خپلـه وعـده بنـه یـاده ده، خـو کـه خـان خفـه کیږی نه نو لږې ورځې دې صبر وکړی.

خپرے: صبر دے صبر، زمونږ څه داسې تادی ده.

زه به څه کوم. ما ته خو به ژوند تېرول گران شي. خدایه څه دې وکړه، آخر په یو کور کښې د حسن او عشق یوځائې کول. د پښتنو غلط رواجونه. د ترور زوې او د ماما لور او د هغوی محبت توبه توبه، دا خو د رواج په نظر کښې یو لوئې جرم دې دومره ناکام به زه څنگه اوکړم. دا هېڅکله نه شي کېدې. هغه به کور ته خامخا راځي، زه بغیر د سعید د لیدو نه وخت نه شم تېرولې. دا ډېره گرانه ده او په سوچ سوچ کښې د عذرا د سترگو نه اوښکې رواني شوې.

گلون: خیر دې عذرا څه چل دې؟ رنگ دې هم بدل غوندې دې او په ژړا هم ښکارې. سعید خو درته څه نه دی ونیلي کنه؟

عذرا: نه ترور سعید ماته هېڅ نه دي ونیلي.

گلون: نو بیا ولې ژاړې، د ژړا څه خبره ده. عذرا هسې یو خیال مې زړه ته راغې او په ژړا شوم. ما وې چې د سعید دا پلار هم څه پلار دې، چې دې نې د کور نه ویستلې دې او ته نې نه نې خوښه. آخر ستا نه ښه ښځه او د سعید نه ښه زوې بل چرته دې ترور بی بی!

گلون هم هڅکو ونیوله او په سلگو شوه. عذرا ستا دا مینه محبت به سعید له ژوند ورکړي. د هغه د خدمت هېڅوک نه وو، زه بودۍ یم دومره توان مې نشته. خو سعید د خدائې او بیا ستا په حواله دې لوري. ته به نې خدمت کوې.

عذرا: ته غم مه کوه ترور بی بی! د سعید څه خدمت دې،

عـزت پـه خائـے کـبنـي خوبنـه وی، دا د چـا خوبنـه نـه وی، چـې د سـړی خـور لـور دې خوشـحاله نـه وی، خـو د قسـمت کـار دے، زه چـې د خـپلې خـور حـال تـه وګـورم، نـو وايـم چـې عـذرا مـې هـډو ورکولے نـه، لـیکن بیـا مـې خیـال شـی چـې پښغلـه لـور څـوك پـه کـور کـبنـې سـاتلے نـه شـی، بنـه بـه دا وی چـې کـه چـرې زمـا د خـور خوبنـه وی، نـو عـذرا سـعید تـه ورکـوم، هغـه هسـې هـم نـن سـبا راروان دے، خـط نـې هغـه بلـه ورځ راغـے دے، خـو مـا تاسـو تـه څـه نه دی ونیلی، خکه چې هغه پخپله راروان دے.

پـه خـط کـبنـې نـې لیکلـی دی امتحـان مـې پـاس کـړو، تهانیـدار نـې مقـرر کـړم، خـو د یـو څـو ورځـو دپـاره کـور تـه درځـم. انشـاء الله تعـالی چـې نـن یـا سـبا بـه راشـی. خـور څنګـه سـتا خوبنـه ده کنه!

ګلـون: ورورہ دا دې پـه مـا غـټ لحـاظ دے، ډیـر بنـه دې راسـره کـړی دی، خـو دا دې راسـره ډیـر بنـه وکـړه، سـعید سـتا هسې هم زوے دے او اوس دې بنه زوے شو.

د عـذرا مـور هـم ډیـره خوشـحالی بنکـاره کـړه. دوی یـو بـل لـه مبارکـۍ ورکـړې او هنـر زوړ شـو، عـذرا لاړه پـه کمـره کـبنـې پټـه شـوه او سـعید ناڅاپـه سـوټ کـیس پـه لاس رامخـامخ شـو، دوی زر پاڅیـدل، هغـه راغـے مامـا تـه نـې سـلام وکـړ، مـامی بنکـل کـړ، او بیـا مـور تـه ور تـر غـاړې وتـو اخوا دېخوا نـې وکتـل او بیـا نـې زر تپوس وکړ.

سعید: عذرا څه شوه مامی ما خو هډو ونه لیده.

ددې خبـرې سـره ټـول د خنـدا شـنه شـول، سـعید حیـران غونـدې

# په ماته پسې کرکنده وی

څرنګ چې نور کله د دوی د یو خانے کېدلو معمول و. هم هغسې وحید ګلے او خېرے یوخانے شول. خو قدرتی کار و چې نن د نور کله په نسبت د خان طبیعت خراب غوندې ښکاری. خکه چې جیب نې تش دے. لاس نې خالی دے. د دولت ښرنګ د ګلنار رنګ او د حېری او ګلی برق برق خنداګانې بیب بیا د خان ذهن ته تلل راتلل او په زور سوچ کښې ناست دے

خېرے پربېرده خان دا غمونه. دا عمر دے کېږی به هدو سعید راغے او تاته نې یو ځو خبرې وکړې نو څه وشو

سعید: زه پولیس انسپکټر یم. ولې څه خدمت. ته څو څه وارخطا غوندې یې

مېلمه: ستاسو نه لږ مخکښې راته ډاکوانو لار بنده کړې وه. مونږ یې ولوټلو. درې سوه روپۍ او زما د ښځې هار یې یووړه. تباه یې کړو. انسپکټر صاحب تباه.

سعید: وارخطا کېږه مه. مونږ هم د دغې ډاکو په تلاش یو. افسوس لږ وخت مخکښې راغلې وې. نو څومره ښه به وه.
مېلمه څه یې ونه وې چې جرته خم، تا ترې هېڅ زده هم نه کړل

مېلمه: هېڅ یې هم ونه وې. صرف دومره پوه شوم. چې د ګلنار نوم یې واخیستلو. خدائې خبر چې ګلنار څه ده او څوک ده؟

سعید: ښه ده مېلمه ته څه په مخه دې ښه او مونږ په دغې ډاکو پسې لاړو. سعید زر ګاړې ته وختلو او پولیسو ته یې ووې. چې نن به د ګلنار د کور نه درک لږی، هسې نه کېږی. هرڅه چې دی هم په دغه کور کښې به وی. دوی نېغ د ګلنار د کور لار ونیوله. خو نیت یې دا وکړ. چې لږ ناوخته به ورشو. هسې نه چې څوک ترانه خبر شی

وحید مال دولت راواخیستلو. راروان شو چې نن به زه د ګلنار نه د هغې د غرور بدله واخلم. دا دولت به ورله په مخ وولم او خپل عزت به ترې نه واپس واخلم. په سوچ سوچ کښې ډېر ناوخته دے د ګلنار کور ته راغے. ګلنار ناسته ده. شمبو یې پښو ته ناست دے. خبرې اترې کوی. ناڅاپه د دېوال نه کور ته

